# KABUL, I  YOU

## کابله، زه در سره مینه لرم؛ فلمی پروژه

یوناما د دې ویاړ لري چې "کابله، زه درسره مینه لرم" د فلمي پروژې لپاره ملاتړ اعلانوي او ځوانو افغان فلم جوړونکو ته بلنه ورکوي چې د لسو دقیقو اوږد فلم تولید او وړاندې کړي. دغه فلم کولای شي په هر شکل او ژانرکې تولید شي (مستند، تجربوي، انیمیشن، ډرامه، موسیقی) په کوم کی چی فلم جوړونکي کولای شي چی خپلی کیسی د مینی په اړه، د هغوی مینه دکابل ښار لپاره، د خلکو لپاره او د خپل هیواد لپاره څرګندې کړي.

د تسلیمولو لپاره لارښوونې:

- هر فلم زیات تر زیات 10 دقیقې اوږد وي (د پردې وخت)
- هره پروژه باید دکابل په بیلا بیلو برخوکې ثبت کړای شي.
- هر فلم جوړونکی باید خپله لنډه پیژندنه (په انګلیسي، پښتو یا دری) د A4 په دوه پاڼوکې چې د دوي پخواني کارونه هم په کې شامل وي د یوناما د میډیا څانګې ته د مۍ د 28 څخه د مخه تسلیم کړي.
- په لنډه پیژندنه کې دغه راز باید د فلم ګیرۍ وخت (ورځ او/یا شپه) شامله وي.
- هره ګټونکې پروژه به د تولید لپاره یوه وړه اندازه پانګه تر لاسه کړي.
- د فلم ژبه باید په وړاندیزکې ښکاره شي.

د نهایی فلم سینمایي ننداري به چې ټول لنډ فلمونه په کې شامليږي دکابل ښار په یو شمیر خصوصي او عامه ځانګړیو ځایونوکې د پردې په مخ ښکاره شي.

د پروژوې او د تسلیمي د لارښوونو په باب د نورو معلوماتو لپاره د بریښنالیک په دې پته ولیږئ:

multimedia-unama@un.org

نوي فلم جوړونکي او ښځینه فلم جوړونکي ډیر هڅول کیږي چی په دی سیالی کی ګډون وکړي.

UNAMA

